International Trade Centre

European Union

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Commerce and Industries

# نړیوال سوداګریز مرکز او اروپایي اتحادیه یو ابتکار پیلوي چې په افغانستان کې سوداګرۍ او اقتصادي ودې ته پرمختګ ورکړي

کابل، د 2016 کال نومبر 29

## نړیوال سوداګریز مرکز، اروپایي اتحادیه او د افغانستان حکومت غواړي چې افغان سوداګریز ظرفیتونه پیاوړي کړي

(کابل-جینیوا) – د افغانستان لپاره د اروپایي اتحادیې له خوا د سوداګرۍ اړوند یو نوی ابتکار چې موخه یې په سیمه ییزه او نړیواله سوداګرۍ کې د نوموړي هیواد د ادغام چټکوالی دی، نن په کابل کې اعلان شو. **افغانستان: د اقتصادي ودې او سیمه ییزې همکارۍ لپاره سوداګري(ATEG) –** به د هیواد د سوداګرۍ ظرفیت د پیاوړي کولو او د سوداګرۍ لپاره د مساعد چاپیریال جوړولو بنسټ کیږدي، چې اوږدمهاله هدف یې له افغانستان او سیمه ییزو شریکبانو څخه د یوه پیاوړي سیمه ییز اقتصادي قطب جوړول دي.

د اروپایي اتحادیې په تمویل، د ATEG ۴،۵ ملیونه یورو پروژه به سوداګري د اقتصادي ودې، دندو پیداکولو، د بیوزلۍ راکمولو او سیمه ییزې همکارۍ زیاتولو لپاره د اړم په توګه وکاروي. نوموړي دري کلنه پروژه - د لوړپوړي بروسل کنفرانس په تعقیب جوړه شوې، چې د افغانستان په اړه د ۲۰۱۶ کال په اکتوبر میاشت کې دایر شوی وو - د نړیوال سوداګریز مرکز له خوا د سوداګرۍ او صنایعو چارو وزارت سره په نږدې همکارۍ پلي کیږي. په لومړي پراو کې به نوموړي پروژه د پالیسي جوړوونکو ظرفیت لوړ کړي چې د سوداګرۍ د پالیسیو او ستراتیژیو په اړه خبرې اتري وکړي، چمتو او پلي یې کړي، چې په دې پروسو کې د خصوصي سکتور د ګډون په اړه ډاډ ورکول هم شامل دي.

د پروژې پیل د ارتیاو د یوې مفصلې ارزوني ماموریت چې د نړیوال سوداګریز مرکز له خوا په ۲۰۱۵ کال کې ترسره شوی وو، تعقیبوي. د پروژې په دوران کې به نړیوال سوداګریز مرکز د افغانستان د حکومت لپاره د صادراتو د یوې ملي ستراتیژۍ په چمتو کولو او پلي کولو تمرکز کوي چې ځانګړی تمرکز به یې په کرنیزو صادراتو او حکومتي ماموریتو ته د سوداګرۍ په پالیسی او سوداګریزو خبروانرو په اړه د ټریننګ وړاندې کولو باندې وي. همدا ډول به نړیوال سوداګریز مرکز د یوې ملي سوداګریزې اسانتیابرابرووونکي کمیټې تاسیسول حمایه کړي چې د کوچنیو او منځنیو شرکتونو ظرفیت لوړوي ترڅو له پولې هاخوا او دې خوا کرنلارو او شرایطو سره ځان سم کړي، او هغه میکانیزمونه لوړ کړي چې د عامه-خصوصي رغنیزو خبروانرو د تضمین لپاره اړین دي.

نوموړي مداخله د افغان حکومت له خوا د روانو هلوځلو درک کول دي چې سوداګري د اقتصادي ودې، سیمه ییزې همکارۍ او ثبات د محرک په توګه وکاروي. افغانستان د سوداګرۍ د نړیوالې اداري (WTO) سره د ۲۰۱۶ کال په جولای میاشت کې یوځای شو او سوداګري او سیمه ییزه اقتصادي همکاري یې د خپلې پراختیایي ستراتیژۍ په زړه کې ځای کړي دي. د سوداګرۍ نړیوالې اداري سره له یوځای کیدو وروسته، د افغانستان لومړی اقدام د نوموړي اداري د سوداګرۍ اسانتیابرابرولو د هوکړې تصویب وو.

په کابل کې د نوموړي پروژې د پیل غونډې په وینا کې، د افغانستان لپاره د اروپایي اتحادیې سفیر ښاغلي فرانز-مایکل سکولد میلبن وویل: "اروپایي اتحادیه ژمنه ده چې ددې ډاډ ورکړي چې افغانستان له هغو فرصتونو څخه ګټه پورته کولای شي چې په نړیواله سوداګرۍ او زیاتیدونکي سیمه ییز ادغام کې له سترې برخه اخیستنې څخه راپورته کیږي. دا پروژه به د ملي ظرفیتونو په لوړولو کې مرسته وکړي چې د صادراتو لپاره یوه منسجمه ستراتیژي طرحه او پلي کړي او همدا ډول به د یو تنظیموونکي چوکاټ په چمتوکولو او پلي کولو کې مرسته وکړي چې د افغان حکومت د اصلاحاتو تګلاره رهنمایي او سوداګریزې اړیکې او همغږي لوړه کړي."

Street address
International Trade Centre
54-56 Rue de Montbrillant
1202 Geneva, Switzerland

P: +41 22 730 0111
F: +41 22 733 4439
E: itcreg@intracen.org
www.intracen.org

Postal address
International Trade Centre
Palais des Nations
1211 Geneva 10, Switzerland

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو چارو وزیر ښاغلي همایون رسا وویل: "نړیواله سوداګري د اقتصادي ودې او دندو پیداکولو د تضمین لپاره اړینه وسیله ده. سوداګري د افغانستان لپاره یوه داسې وسیله ده چې په مرستو له تکیه ځخه یې لرې کوي او د راتلونکي لپاره یې په داسې یوه لاره روانوي چې له نورو هیوادونو سره په ښکیلتیا جوړه وي چې په هیواد او سیمه کې به د ثبات په راوستلو کې مرسته وکړي."

د نړیوال سوداګریز مرکز مشرې آغلې ارانچا ګونزالیز وویل: "د وریښمو د پخوانۍ لار په زړه کې پروت، افغانستان یو هیواد دی چې په سوداګرۍ جوړ دی. دا داسې یو هیواد دی چې سترې لاس نالګیدلي سرچینې لري او د سمو پالیسیو او میکانیزمونو په کار اچولو سره، مونږ هوډ لرو چې یو غوره او ښه باثباته افغانستان جوړ کړو چې یو ځل بیا خپل ځای په نړیوال سوداګریز سیستم کې پیدا کړي."

د پایښت د تضمین، سیمه ییز مالکیت او د پروژې د اوږدمهاله اغیز لپاره به نړیوال سوداګریز مرکز د یو لړ شریکبانو سره کار کوي چې په کې خصوصي سکتور، غیردولتي مؤسسې، او په افغانستان کې کارکوونکې علمي او مدني-ټولنیزې اداري شاملې دي.

د ایډیټر لپاره یادښتونه

**د نړیوال سوداګریز مرکز په اړه** – نړیوال سوداګریز مرکز د سوداګرۍ د نړیوالې اداري او د ملګرو ملتونو ګډه نمایندګي ده. نړیوال سوداګریز مرکز له وړو او منځنۍ اندازې لرونکو شرکتونو سره د اقتصادونو په جوړولو او انتقال کې مرسته کوي چې په نړیوالو مارکیټونو کې د سیالۍ جوګه شي، له همدې امله دوی د سوداګرۍ-لپاره-مرستې او د ملګرو ملتونو د پاییدونکو پراختیایي هدفونو په چوکاټ کې دننه د پاییدونکي اقتصادي پراختیا لپاره همکاري کوي. د لا ډیرو مالوماتو لپاره، www.intracen.org وګورئ. نړیوال سوداګریز مرکز په ټویټر کې وڅارئ: **@ITCnews**

**د نورو مالوماتو لپاره**

جارلي هیتلاند
د رسنیو مامور، نړیوال سوداګریز مرکز
فون: 0145 730 22 41+
موبایل: 80 91 582 79 41+
بریښنالیک: Hetland@intracen.org

د اروپایي ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بریښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu